# معلوماتي پاڼه: د بریتانیا حکومت د افغان معلوماتو افشا کېدل

***وروستی ځل نوی شوی: 2 سپټمبر 2025***

دا معلوماتي پاڼه د هغو پېښو په اړه معلومات وړاندې کوي چې د بریتانیا د افغانانو د ساتنې له پروګرامونو سره تړاو لري، او پکې د معلوماتو افشاء شامل دي. دا پاڼه د دې لپاره چمتو شوې چې افغان وګړو او د هغوی کورنیو ته د دغو پېښو د ښه درک کولو زمینه برابره کړي، خو دا قانوني مشوره نه ګڼل کېږي.

د مهرباني له مخې دا درسر په پام کې ونیسئ چې په دې پاڼه کې ورکړل شوي معلومات یوازې د هغو محدودو معلوماتو پر بنسټ دي چې د بریتانیا حکومت له خوا وړاندې شوي دي. مونږ تاسو ته په کلکه سره سپارښتنه کوو چې د خپلو ځانګړو حالاتو په اړه له قانوني مشاورینو سره مشوره وکړئ.

تاسي کولای شئ د هغو غوښتونکو د ملاتړ لپاره نمونوي لیکونه دلته ومومئ چې د بریتانیا د افغانانو د انتقال او مرستې پالیسی (ARAP) او د هغې مخکینی برنامې، د فوق‌العاده مرستې پلان (EGS)، لاندې غوښتنه کړې او د افغان معلوماتو د افشاء له پېښې اغېزمن شوي دي.

دا معلوماتي پاڼه نوې شوې ده، ځکه چې لا زیات تازه جزئیات تر لاسه شوي دي.

**د معلوماتو درز یا افشا کېدل څه دي؟**

د افغانانو د انتقال له پروګرامونو سره تړلو غوښتنلیکونو کې څو بېلابېلې د معلوماتو افشاء پېښې رامنځته شوې دي.

د 2025 کال د اګست په 21مه، بي بي سي رايور ورکړ چې د دفاع وزارت منلې ده چې په تېرو څلورو کلونو کې د هغو ټیمونو له خوا چې د افغانانو د انتقال غوښتنلیکونه یې څېړل، 49 جلا د معلوماتو افشاء پېښې رامنځته شوې دي.

د ټولو افشاء شویو معلوماتو په اړه محدود جزئیات شته. تر دې دمه چې کومې پېښې معلومې شوې دي، دا دي:

1. د 2021 کال سپټمبر

دا افشاء کېدل هغه مهال رامنځته شو کله چې د ARAP ټیم له خوا یو برېښنالیک غوښتونکو ته ولېږل شو، چې پکې د 265 کسانو برېښنالیک پته د "کاپي" په برخه کې شامله وه. د برېښنالیک هر یوه ترلاسه کوونکي د ټولو نورو ترلاسه کوونکو پته، او په ځینو مواردو کې د هغوی ځای او انځورونه هم لیدلای شول.

د دې پېښې په اړه معلومات ښيي چې ټول ترلاسه کوونکي هغه کسان وو چې د ژباړونکو په توګه يې کار کړی و.
د معلوماتو د ساتنې کمېشنر دفتر (ICO)، چې په بریتانیا کې د شخصي معلوماتو د ذخیره کولو او کارونې د تنظیم مسؤله اداره ده، دا افشاء وڅېړله او د دفاع وزارت يې جریمه کړ.

هغه کسان چې له دې افشاء څخه اغېزمن شوي، د دفاع وزارت له خوا مستقیم تماس ورسره نیول شوی دی.

د اغېزمنو کسانو لپاره د تاوان ورکولو ځانګړی پروګرام جوړ شوی دی.

2. د 2022 کال فبروري او د 2023 کال اګسټ

د 2025 کال د جولای په 15مه، د بریتانیا حکومت اعلان وکړ چې د افغانانو د بیا میشتېدو او مرستې پالیسی (ARAP) او د هغې مخکینی برنامې، د فوق‌العاده مرستې پلان (EGS)، له غوښتنلیکونو سره تړلو شخصي معلوماتو کې یوه ستره افشاء شوې ده. د بریتانیا حکومت څرګنده کړې چې هغه غوښتنلیکونه اغېزمن شوي دي چې د 2022 کال د جنوری تر 7مې پورې وړاندې شوي وو. دا افشاء د یوه سپرېډشیټ د افشاء له لارې رامنځته شوې، چې د 18,714 اصلي غوښتونکو شخصي معلومات پکې شامل وو. د دې اعلان دري او پښتو ژباړې دلته شته. راپورونه ښيي چې یوه سرتېري د لړ شمېر غوښتونکو معلوماتو لرونکی سپرېډشیټ خپل د باور وړ افغانانو ته لېږلی و، پرته له دې چې پوه شي دا سپرېډشیټ د ډېرو کسانو معلومات لري. موږ پوهېږو چې دا سپرېډشیټ احتمالاً د 18,714 غوښتونکو نومونه، ژوندلیک معلومات، د غوښتونکو او د هغوی د کورنۍ د اړیکو جزئیات، او (احتمالاً) د انتقال لپاره د غوښتنې دلیلونه پکې شامل وو.

د 2023 کال د اګست په 14مه، د سپرېډشیټ یوه کوچنۍ برخه د فېسبوک په یوه ګروپ کې د سکرین‌شاټ په بڼه شریک شوې وه.

د معلوماتو د ساتنې کمېشنر دفتر (ICO) د جولای په 15مه او د جولای په 17مه د دې افشاء په اړه تبصره وکړه، او تایید يې کړه چې له دفاع وزارت سره يې کار کړی ترڅو معلومه کړي چې پېښه څنګه رامنځته شوې، ولې رامنځته شوې او څه اقدامات به ترسره شي ترڅو دا ډول پېښې بیا تکرار نه شي. ICO پرېکړه کړې چې د دې افشاء په اړه نور اقدامات نه کوي، او دفاع وزارت ته به جریمه هم نه ورکوي.

سربېره پر دې، ټول موجود راپورونه ښيي چې د بریتانیا حکومت د دې افشاء له امله اغېزمنو کسانو ته د تاوان ورکولو هېڅ نیت نه لري.

3. د 2025 کال اګسټ

د 2025 کال د اګست په 15مه راپور ورکړل شو چې د دفاع وزارت یوه فرعي قراردادي اداره، جېټ سنټر، د سایبري امنیت له یوې پېښې سره مخ شوې، چې ښایي د ARAP پروګرام تر 3700 پورې غوښتونکو شخصي معلومات یې زیانمن کړي وي. اټکل کېږي چې اغېزمن کسان د 2024 کال د جنورۍ او مارچ ترمنځ بریتانیا ته رسېدلي وي.

**ولې له 2022 کال را وروسته موږ یوازې اوس د معلوماتو د افشاء پېښو په اړه خبر شو؟**

هغه افشاء چې د 2021 کال د سپتمبر په میاشت کې رامنځته شوې وه، په هغه وخت کې عامه شوې وه؛ خو هغه پېښې چې له هغې وروسته رامنځته شوې دي، د هغو په اړه یوازې اوس تازه راپورونه خپاره شوي دي.

دا ځکه چې:

1. د 2022 کال د فبروري د میاشتې د افشاء پېښه د بریتانیا حکومت د 2023 کال تر اګسټ پورې نه وه معلومه کړې؛
2. د 2022 کال د فبرورۍ او د 2023 کال د اګست افشاء پېښو د راپور ورکولو د مخنیوي لپاره حکومت قانوني ګامونه پورته کړل؛
3. محکمې د 2025 کال د جولای تر 15مې پورې د دغو افشاء پېښو د راپور ورکولو اجازه نه وه ورکړې.

د بي بي سي له خوا د افشاء شویو پېښو د شمېر په اړه ورکړل شویو معلوماتو پرته، موږ دا مهال د نورو پېښو په اړه مشخص یا اضافي معلومات نه لرو.

**د 2022 کال د فبرورۍ د معلوماتو د افشاء پېښې په اړه د بریتانیا حکومت څه اقدامات وکړل؟**

راپورونه ښیي چې د بریتانیا حکومت لاندې اقدامات ترسره کړل:

- د سپرېډشیټ د لا زیات خپراوي او عامه کولو مخنیوی؛
- د سپرېډشیټ د شتون د راپور ورکولو مخنیوی؛ او
- له هغو کسانو سره مرسته، چې حکومت یې د طالبانو له خوا د احتمالي زیان له امله تر ټولو زیات له خطر سره مخ ګڼي.

کله چې خبریالان د همدې افشاء له امله د 2023 کال د اګسټ په میاشت کې خبر شول او بیا یې د دفاع له وزارت سره په دې اړه اړیکه ونیوله، نو د دفاع وزارت لومړی له خبریالانو وغوښتل چې په لیست کې د شته خلکو د ژوند له جدي خطر سره د مخامختیا د مخنیوي په خاطر هېڅ معلومات خپاره نه کړي.

وروسته، د دفاع وزیر د دې افشاء د معلوماتو د خپرېدو د مخنیوي لپاره له سترې محکمې څخه د یو قانوني بندیز (injunction) غوښتنه وکړه.
د دغه بندیز د غوښتنې له امله، د 2023 کال د سپتمبر په 1 نېټه، سترې محکمې یو سخت د حکمې حکم صادر کړ – چې سوپر-انجکشن (جدي قانوني بندیز) بلل کېږي. دا حکم له هر چا څخه د دې افشاء د معلوماتو، یا حتی د دې حکمې حکم د شتون د شریکولو مخه نیوله. دا لومړی ځل و چې په دې ډول یو حکم صادرېده، او د دې حکم بیاکتنه د سترې محکمې له خوا د 2023 کال د نومبر، د 2024 کال د فبروری، د 2024 کال د مې، د 2024 کال د جولای او د 2025 کال د جولای په میاشت کې تر سره شوه. بالاخره، دا سوپر-انجکشن د 2025 کال د جولای په 15مه د سترط محکمې له خوا لغوه شو. تاسط کولای شئ د دې بندیز د صادرېدو او لغوه کېدو اړوند پرېکړې دلته ولولئ.

د 2024 کال د اپرېل په میاشت کې، د بریتانیا حکومت یو ځانګړی انتقالی پروګرام پیل کړ، چې د افغانستان د غبرګون لاره (ARR) نومېده، ترڅو هغه کسان او د هغوی کورنۍ چې له خطر سره مخ وو، بریتانیا ته راولي. د ARR د شتون او وړتیا معیارونه عامه نه وو، او دا یوازې د بلنې له لارې ترسره کېده. موږ اوس پوهېږو چې د ARR له مخې د مرستې لپاره د یو کس وړتیا باید لاندې شرایط ولري:

1. د معلوماتو د افشاء له پېښې اغېزمن شوی وي (د بېلګې په توګه د هغوی معلومات په افشاء شوې سپرېډشیټ کې شامل وي)؛
2. د طالبانو له خوا د هدف ګرځېدو تر ټولو لوړ خطر ولري؛
3. په یوه لوړ خطر لرونکي هېواد کې موقعیت ولري؛
4. او مخکې له دې یې د ARAP،ACRS یا نورو موجودو لارو له مخې مرسته نه وي ترلاسه کړې.

د بریتانیا حکومت تایید کړې چې د 2025 کال د جولای په 4مه د افغانستان د غبرګون لاره (ARR) بنده شوې ده.

**زه څنګه پوه شم چې د معلوماتو د افشاء له پېښې اغېزمن شوی یم؟**

هغه کسان چې د 2021 کال د سپتمبر د افشاء له پېښې اغېزمن شوي، له څه مودې راهیسې د دفاع وزارت له خوا مستقیم تماس ورسره نیول شوی دی.

د 2022 کال د فبروری د افشاء پېښې لپاره، تاسې کولای شئ د معلوماتو د پېښې د ځانپېژندنې وسیله (Data Incident Self-Checker) وکاروئ، ترڅو معلومه کړئ چې تاسې (او ستاسې د کورنۍ غړي یا اړوند کسان چې په غوښتنلیک کې ذکر شوي) اغېزمن شوي یاست که نه.

که تاسې څو غوښتنلیکونه وړاندې کړي وي، امکان لري چې څو جلا ریفرنس شمیرې درکړل شوې وي. د حکومت لارښود څرګندوي چې تاسې باید هره ریفرنس شمېره جلا جلا وڅېړئ.

که تاسې هېڅکله د ARAP یا EGS لپاره غوښتنلیک نه وي وړاندې کړی (لکه یوازې د ACRS یا بل پروګرام لپاره مو غوښتنه کړې وي)، نو ستاسې معلومات د دې افشاء برخه نه دي، ځکه چې دا معلومات په سپرېډشیټ کې نه وو شامل.

سربېره پر دې، امکان لري چې تاسې له دفاع وزارت څخه یو لیک ترلاسه کړی وي چې بڼه یې د دې یا دې په څېر وي.

د نورو افشاء شویو پېښو په اړه، دا لا روښانه نه ده چې تاسې څرنګه دا تاییدولای شئ چې اغېزمن شوي یاست که نه. احتمال شته چې تاسې باید یو لیک ولیکئ ترڅو د تایید غوښتنه وکړئ.

**ما خپل اسناد له لاسه ورکړي دي / زه د خپلو ریفرنس شمېرو څخه نه یم خبر – څه کولای شم؟**

که تاسو د ARAP، EGS یا ATAE ریفرنس شمېره نه پېژنئ (یا ټولې نه لرئ)، نو کولای شئ د دفاع وزارت د اړیکې له دې فورمې څخه استفاده وکړئ ترڅو له هغوی وغواړئ چې ستاسې ریفرنس شمېره درته پیدا کړي. باید داډ ترلاسه کړئ چې خپل ټول نومونه ورکړئ (په ځانګړې ډول که مو نوم په څو بڼو سره لیکل کېږي)، او امکان لري که چېرې هغوی ستاسې اسناد ژر پیدا نه کړي نو له تاسې نور معلومات وغوښتل شي.

تاسې کولای شئ موضوع ته د لاسرسي غوښتنه (Subject Access Request – SAR) هم وړاندې کړئ. دا هغه مهال کارول کېږي چې تاسې له یوې حکومتي ادارې څخه وغواړئ چې ستاسې په اړه ټول موجود اسناد درکړي. که تاسې له دفاع وزارت سره په افغانستان کې کار کړی وي، نو د SAR فورم د ډکولو لپاره هغه دلته موندلی شئ. نورې حکومتي ادارې ممکن د SAR لپاره جلا پروسه ولري؛ که تاسې له نورو حکومتي ادارو سره کار کړی وي (لکه د بهرنیو چارو وزارت، د همکټو او پراختیا دفتر((FCDO))، نو سپارښتنه کېږي چې د هماغې ادارې ځانګړې ویب‌پاڼه وګورئ ترڅو د SAR پروسه وموموئ.

**زه پوهېږم چې د معلوماتو د افشاء پېښې اغېزمن کړی یم – څه کولای شم؟**

د 2022 کال د فبروری میاشتې د پېښې له امله د اغېزمنو کسانو لپاره په انګلیسي، دري او پښتو ژبو لارښود د بریتانیا حکومت له خوا خپور شوی دی.

که ستاسې شخصي معلومات افشاء شوي وي، نو سپارښتنه کېږي چې:

1. د امنیتي مشورو په اړه په احتیاط سره غور وکړئ او د خوندي پاتې کېدو لپاره یې عملي کړئ؛
2. هغه اسناد او شواهد وساتئ چې ښیي ستاسې معلومات د افشاء شوو معلوماتو په منځ کې شامل وو؛
3. لاندې معلومات په پام کې ونیسئ چې د ARAP غوښتنلیک سره ستاسې د ممکنه غوراوېو په اړه وضاحت ورکوي.

**امنیتي مشوره**

لاندې د هغو مشورو لنډیز دی چې د بریتانیا حکومت له خوا د هغو په معلوماتي پاڼه کې خپره شوې دي. که څه هم زیاتره یې د عام عقل پر بنسټ دي، خو تعقیب یې د هغو کسانو لپاره هم ګټور ده چې د معلوماتو د افشاء له امله مستقیم اغېزمن شوي نه وي:

- هڅه وکړئ چې خپل د اړیکې معلومات بدل کړئ – خو ډاډ ترلاسه کړئ چې هغې پتې ته لاسرسی وساتئ چې تاسي په خپل غوښتنلیک کې ورکړې وه، ترڅو د DARR ټیم وکولای شي له تاسي سره اړیکه ونیسي.
- له نااشنا کسانو څخه د تلیفوني اړیکو، پیغامونو یا ایمیلونو په ځواب ورکولو کې ځانګړی احتیاط وکړئ؛
- د خپلو ټولنیزو رسنیو پروفایلونه محدود کړئ، او که اړتیا وي، بند یې کړئ؛
- له هغو کسانو څخه د ملګرتیا یا فالو غوښتني منلو کې احتیاط وکړئ چې تاسي یې نه پیژنئ یا باور پرې نه لرئ؛
- خپل آنلاین اکاونټونه وڅارئ ترڅو درته په ډاګه شي چې ورته غیرمجاز لاسرسی نه وي شوی یا یې تنظیماتو کې بدلون نه وي راغلی؛
- که امکان ولري، نو انټرنېټ ته د لاسرسي لپاره له مجازي خصوصي شبکې (VPN) څخه استفاده وکړئ؛
- له دې ډډه وکړئ چې نورو ته ووایاست چې ښایي ستاسي شخصي معلومات ځورمنونکي وي، ځکه کېدای شي چې دا کار د نورو خلکو پام دې ته راواړوي چې ستاسي شخصي معلومات له ناوړه کاروني سره مخ شي؛ او
- که سفر کوئ یا له یوې نړیوالې پولې څخه تېرېږئ، نو ځانګړی احتیاط وکړئ.

**د فریب وړ ایمیلونو او پیغامونو په اړه خبرداری**

راپورونه ښیي چې ځینو کسانو داسي ایمیلونه او پیغامونه ترلاسه کړي چې ادعا کوي چې دوی د معلوماتو د افشاء له پېښې وروسته د تاوان مستحق دي. ډېر احتمال شته چې دا پیغامونه رسمي نه وي او فریب وړ (scam) وي، نو باید راپور ورکړل شي او حذف شي.

که تاسي داسي ایمیل یا پیغام ترلاسه کړئ چې ادعا کوي له دفاع وزارت څخه دی، هېڅ ځواب مه ورکوئ، او نه یې هم باید لینکونه یا ضمیمې خلاصې کړئ. د پیغام د لیږونکي پته په دقت سره وګورئ –له دفاع وزارت څخه به هر رسمي پیغام د داسي یوه برېښنالیک له خوا تاسي ته واستول شي چې په پای کې به یې د '@MOD.GOV.UK' نوم وي.

سربېره پر دې، د افغانانو د انتقال پروګرام هېڅ ډول د غوښتنلیک یا منل کېدو فیس نه لري: تاسي نه باید د ARAP، EGS یا ACRS غوښتنلیک ته پیسې ورکړئ. که تاسي ته د افغانانو د انتقال پروګرام له مخې د انتقال وړاندیز وشي او له تاسو د پیسو غوښتنه وشي، هېڅکله پیسې مه ورکوئ.

د فریب وړ پیغامونو د پیژندلو او راپور ورکولو په اړه د ملي سایبري امنیت مرکز د فیشینګ لارښود ولولئ.

**شواهد: که فکر کوئ چې دا شواهد د معلوماتو د افشاء له پېښې سره تړاو لري، نو هغه وساتئ.**

که تاسي باور لرئ چې د معلوماتو د افشاء له امله هدف ګرځېدلي یاست، یا زیان مو لیدلی، نو هڅه وکړئ چې د پېښو شواهد او ریکارډونه وساتئ.

د بېلګې په توګه:

- د نا غوښتل شوو الکترونیکي پیغامونو سکرین‌شاټونه یا عکسونه واخلئ؛
- د هغو ویب‌پاڼو سکرین‌شاټونه یا چاپ شوي نسخې وساتئ چې ستاسې شخصي معلومات پکې ښکاره شوي وي؛
- د WhatsApp، پیغام‌رسوني یا ټولنیزو شبکو حسابونه له حذف کولو مخکې ډاونلوډ کړئ؛
- د هر ډول تر لاسه شوو لیکونو یا خبرتیاوو عکسونه واخلئ؛ او
- که تاسې ته تلیفوني زنګ راشي، نو د زنګ وخت، نېټه، نمبر او خبرې ژر تر ژره ولیکئ.

که دا شواهد ساتل ستاسو لپاره خطرناک وي، نو فکر وکړئ چې آیا یو باوروړ شخص لرئ چې په خوندي ځای کې وي او تاسې کولای شئ دا شواهد ورته واستوئ، تر څو یې له خپلو وسایلو څخه حذف کړئ.

**زه د ARAP،EGS  یا ARR له لارې بریتانیا ته انتقال شوی یم او زما معلومات افشاء شوي دي.**

که تاسې د انتقال لپاره مستحق پېژندل شوي یاست او بریتانیا ته رسېدلي یاست، د معلوماتو افشاء کېدل به ستاسې د استوګنې حالت باندې هېڅ اغېز ونه لري. خو ممکن تاسې د تاوان غوښتنې لپاره مستحق واوسئ. یو شمېر قانوني شرکتونه شته چې کولای شي تاسو ته مشوره درکړي چې آیا تاسې د تاوان غوښتنه کولای شئ که نه.

- Wilsons Solicitors LLP: public@wilsonllp.co.uk
- Leigh Day: ARAPdatabreach@leighday.co.uk
- DPG: newcaseenquiries@dpglaw.co.uk

تاسې باید لا هم د امنیتي مشورو پیروي وکړئ، حتی که په بریتانیا کې یاست. که تاسې ته داسې پیغام یا لیک راشي چې ادعا کوي له دفاع وزارت څخه دی، مهرباني وکړئ د فریب وړ ایمیلونو او پیغامونو په اړه لاندې معلومات وګورئ.

که تاسې د خپلې کورنۍ په اړه اندېښنه لرئ، مهرباني وکړئ لاندې معلومات ولولئ چې پوه شئ څه کولای شئ.

**زه د ARAP یا EGS غوښتنلیک لرم او زما معلومات افشاء شوي دي – دا به پر ما څه اغېز ولري؟**
که تاسې یا ستاسې د کورنۍ غړي له بریتانیا څخه بهر وي او د غوښتنلیک د پرېکړې په انتظار کې یاست، نو دا طبیعي ده چې د معلوماتو د افشاء له امله اندېښمن یاست.

د بریتانیا حکومت ویلي دي چې:

- دوی باور لري چې د هغو کسانو لپاره چې شخصي معلومات یې په افشاء شوي جدول کې شامل وو، خطر نور لوړ نه دی؛
- دوی باور نه لري چې طالبان به له دې معلوماتو څخه د هغوی په نښه کولو لپاره استفاده وکړي، او دا هماغه دلیل دی چې له مخې یې د افغانستان د غبرګون لاره (ARR) بنده شوه.

خو که تاسې داسې دلایل لرئ چې ښیي تاسې یا ستاسې کورنۍ ممکن هدف وګرځي، نو کولای شئ د دفاع وزارت ته لیک ولیکئ.

د خطر د ارزونې لپاره، تاسې کولای شئ له دوی وغواړئ چې تایید کړي کوم شخصي معلومات ستاسې او ستاسې د کورنۍ په اړه په جدول کې شامل وو. که اړینه وي، تاسې کولای شئ د معلوماتو د افشاء اغېز تشریح کړئ، او دا هم بیان کړئ چې ولې تاسې ځانګړی خطر احساس کوئ.

د Refugee Legal Support (RLS) سازمان د هغو کسانو لپاره چې په دې حالت کې دي، یو نمونوي لیک چمتو کړی دی، تر څو له دفاع وزارت څخه د ژر پرېکړې غوښتنه وکړي.

د تعقیبي لیک نمونه دلته ډانلوډ کړئ.
د همدې نمونه لیک تر څنګ، موږ تاسې ته د لیک لارښود هم ترتیب ک ړی دی، چې په کې دا تشرېح شوې چې څرنګه دا نمونه په اغیزمنه توګه وکاروئ. تاسې ته په کلکه سره مشوره درکول کېږي چې د همدې لیکونو له کارولو وړاندې دا لارښودونه ولولئ.
د تعقیبي لیک لارښود په انګلیسي کې ډانلوډ کړئ.
د تعقیبي لیک لارښود په دري کې ډانلوډ کړئ.
د تعقیبي لیک لارښود په پښتو کې ډانلوډ کړئ.

**زما د ARAP یا EGS غوښتنلیک یا د ARAP یا EGS بیاکتنه رد شوې ده – څه کولای شم؟**

که ستاسې شخصي معلومات افشاء شوي وي او ستاسې غوښتنلیک او بیاکتنه دواړه رد شوي وي، دا معمولاً دا معنا لري چې ستاسې دوسیه پای ته رسېدلې ده.

خو که تاسې داسې قوي نوي شواهد لرئ چې نه په لومړني غوښتنلیک کې موجود وو، او نه هم د بیاکتنې پر مهال، نو حق لرئ چې د بیاکتنې غوښتنه وکړئ. موږ سپارښتنه کوو چې که د معلوماتو افشاء تاسې یا ستاسې کورنۍ له خطر سره مخ کړې وي، نو دا باید د "قوي نوي شواهدو" په توګه وپېژندل شي، او تاسې کولای شئ د بیاکتنې نوې غوښتنه وړاندې کړئ.

تاسې باید یو مفصل بیان ولیکئ چې پکې تشریح کړئ د معلوماتو افشاء کوم خطرونه رامنځته کړي دي، له هغې ډلې هغه مشرح معلومات چې د نویو ګواښونو په اړه وي چې تاسې یا ستاسې د کورنۍ غړو تر لاسه کړي وي، یا د کور تلاشي، نیول یا کوم بل ډول ځورول مو تجربه کړي وي. تاسې کولای شئ د APBI ARAP د ځاني مرستې لارښود څخه استفاده وکړئ، چې د شاهدانو د بیانونو لپاره ځانګړی برخه لري (وګورئ: 32م مخ؛ 2 ضمیمه).

د مهرباني له مخې دا په نظر کې درسره وساتئ چې موږ تضمین نه شو ورکولای چې ستاسې د بیاکتنې غوښتنه به ومنل شي یا ستاسې غوښتنلیک به منظور شي، ځکه چې ټولې غوښتنې د فردي ارزونې پر بنسټ څېړل کېږي.

**تاسې باید د بیاکتنې غوښتنې فورمه دلته ډکه کړئ یا هم دغې پتې ته برېښنالیک واستوئ:**
**ARAP-Casework@mod.gov.uk**

**RLS یو نمونوي لیک چمتو کړی دی چې تاسې یې د بیرنۍ بیاکتنې د غوښتنې لپاره کارولای شئ، که تاسې په دې حالت کې یاست او پوهېږئ چې ستاسې معلومات د افشاء برخه وو.**
**د بیاکتنې لپاره د نوي لیک نمونه دلته ډانلوډ کړئ.**

**د دې نمونې تر څنګ، موږ د لیک لارښود هم چمتو کړی دی، چې تشریح کوي څنګه له دې نمونو څخه مؤثره استفاده وشي. تاسو ته په ټینګه سپارښتنه کیږي چې د لیکونو له استعمال مخکې دا لارښودونه ولولئ.**

[د بیاکتنې د نوي لیک لارښود په انګلیسي ژبه ډانلوډ کړئ](#)
[د بیاکتنې د نوي لیک لارښود په دري ژبه ډانلوډ کړئ](#)
[د بیاکتنې د نوي لیک لارښود په پښتو ژبه ډانلوډ کړئ](#)

زه د **ARAP/ARR** پروګرام له لارې انتقال شوی یم او دایمي اقامت **(ILR)/ALES** مې ترلاسه کړی دی. زما ځیني اضافي کورنۍ غړي (لکه زړه مور/پلار، بالغ ورور/خور او د هغوی کورنۍ) په شرایطو برابر نه دي ګڼل شوي؛ هغوی څنګه کولای شي چې له ما سره په بریتانیا کې یو ځای شي؟

که تاسې د خپلې کورنۍ غړي د ARAP/EGS په اصلي غوښتنلیک کې شامل کړي وي او د هغوی وړتیا رد شوې وي، نو تاسې ممکن د دې پرېکړې د بیاکتنې غوښتنه وړاندې کړئ. معمولاً باید د بیاکتنې غوښتنه د ۹۰ ورځو دننه وسپارل شي، خو که تاسې باور لرئ چې هغه خطرونه چې ستاسو کورنۍ ورسره مخ ده د معلوماتو د افشاء له امله رامنځته شوي یا زیات شوي، نو تاسې کولای شئ استدلال وکړئ چې دا مهلت باید معاف شي.

که تاسې د خپلې کورنۍ غړي په اصلي غوښتنلیک کې نه وي شامل کړي، نو ښکاره خبره ده چې د هغوی معلومات به د افشاء برخه نه وي. خو که تاسې اندېښنه لرئ چې هغوی اوس د معلوماتو د افشاء له امله له خطر سره مخ دي، نو تاسې کولای شئ د [ARAP-Casework@mod.gov.uk](mailto:ARAP-Casework@mod.gov.uk) سره اړیکه ونیسئ او د اضافي کورنۍ غړو لپاره د فورم غوښتنه وکړئ. تاسې باید په تفصیل سره تشریح کړئ چې ولې ستاسې د کورنۍ غړي اوس له خطر سره مخ دي او ولې هغوی په اصلي غوښتنلیک کې نه وو شامل شوي.

که پورته هېڅ یوه وضعیت پر تاسې یا ستاسې د کورنۍ پر غړو نه تطبیقېږي، نو د هغوی لپاره کوم ځانګړی پروګرام نشته چې له تاسې سره په بریتانیا کې یو ځای شي. خو هغوی ممکن د بریتانیا د کورنیو چارو وزارت ته د مهاجرت غوښتنلیک وړاندې کولو وړتیا ولري، تر څو له تاسو سره یو ځای شي. نور معلومات [دلته](#) موندلای شئ:

**زما د کورنۍ د یوه غړي معلومات افشاء شوي دي او اوس زه فکر کوم چې په خطر کې یم. ایا زه بیا هم کولای شم د ARAP لپاره غوښتنه وسپارم؟**

د بریتانیا حکومت د 2025 کال د جولای په 1 نېټه د ARAP پروګرام د نویو غوښتنلیکونو لپاره بند کړی دی. اوس د ARAP لپاره نوی غوښتنلیک وړاندې کول ممکن نه دي، او آنلاین فورمې ته لاسرسی نشته.

د مهرباني له مخې دا در سره په نظر کې وساتئ چې د ARAP بندېدل هغو کسانو باندې نه تطبیقېږي چې مخکې یې غوښتنلیکونه یا د بیاکتنې غوښتنې سپارلې وي. ټول موجود غوښتنلیکونه او بیاکتنې به لا هم وڅېړل شي.

همداشان، که تاسې مخکې د ARAP لپاره غوښتنه نه وي کړې، خو ستاسې یوه خپلوان کړې وي او تاسې د کورنۍ غړي په توګه پکې شامل شوي یاست، نو ممکن تاسو د "وخت څخه بهر" بیاکتنې غوښتنه وکړئ، که پرېکړه شوې وي چې تاسو د مرستې وړ نه یاست.

**آیا افغانانو ته بریتانیا ته د راتلو لپاره نورې لارې شته؟**

د 2025 کال د جولای په 1 نېټه، د ARAP پروګرام د نویو غوښتنلیکونو لپاره بند شو، او د ACRS پروګرام د نویو ارجاعاتو لپاره هم بند شو. اوس د افغانانو لپاره هیڅ ځانګړی پروګرام نشته چې بریتانیا ته د راتلو زمینه برابره کړي.

**زه په افغانستان کې د خپلې کورنۍ د غړو په اړه ډېر اندېښمن یم – څه کولای شم؟**

د معلوماتو د افشاء خبرونه ډېر خپه کوونکي دي. دا طبیعي ده چې تاسې خپه، مغشوش، اندېښمن یا تر فشار لاندې احساس کوئ. مهرباني وکړئ د رواني روغتیا ملاتړ ترلاسه کړئ که چېرې دا کار در سره مرسته کولای شي. تاسې کولای شئ دلته ګټوره مرسته تر لاسه کړئ (د هغو لپاره چې په بریتانیا کې دي) یا دلته (د هغو لپاره چې په افغانستان یا په سیمه کې دي).